# د بښونکي خدای په سپیڅلي نامه

# د ترکيی هيواد بورسونو ته د نوم ليکنی او بشپړ مالوماتو لاربنود

# د ليسانس لپاره ترتيب شوی لاربنود

دترکيي هيواد بورسونو ته د انترنت له لارې آنلاين نوم ليکنه کيږی کوم ځانګړی امتحان نلري دغه بورسونه دوه اسانه پړاوونه لری چه لومړی پړاو يی د انترنت له لاری نوم ليکنه ده او دويم پړاو يی مخامخ مرکه ( Interview ) ده. په ځان باور ولرئ او نوم ليکنه وکړئ.

ستاسي د بريا په هيله!

## د بورس ډولونه:

### په کومو برخو کې څه ډول بورسونه ورکوي ؟

په بيلابيلو برخو کې سکالرشيپونه په لاندې ډولو ويشل شوي دي.

١ د ليسې لپاره، کولای شئ وروسته پوهنتون ته هم ادامه ورکړئ.
٢ د ليسانس لپاره.
٣ دماسترۍ دوکتورا او ځانګړو څيړنو لپاره.
۴ دوه کلني زده کړې.
۵ پخپل لګښت زده کړې، پدې برخه کې هم د ترکيې دولت د لګښت په غاړه اخيستو پلان لري.

يادونه: دبورسونو ټول لګښت د ترکيي دولت په غاړه دی سربيره پر دې مياشتنۍ مالومه اندازه پيسې چې د هرې برخې (ليسه، ليسانس، ماسټرۍ او دوکتورا ) لپاره مالومه اندازه ټاکل شوې درکول کيږی (مياشتني لګښت لپاره)
داوسيدو دځای، ناروغۍ، ژبې [illegible] کړې [illegible] ځينو نورو لګښتونه هم [illegible] په غاړه وي.

Ketabton.com

د ليسانس لپاره د **May** مياشتې په ۶ نوم ليکنه پيل شوې چه د **June** مياشتې تر۶ به دوام وکړي.

## د نوم ليکنی شرايط :

(د ليسانس لپاره د ليسې د نمرو سلنې ته نظر کيږي)

**لومړی شرط**

د ليسې د نمروسلنه بايد ٪۷۰ وی
طب پوهنځی لپاره دليسی د نمرو سلنه بايد ٪۹۰ وی

Candidates must have at least
For Undergraduate 70%
For Medicine 90%

**دويم شرط**

دليسانس لپاره: د زيږېدو نيټه مخکې له 01,01,1992 څخه نه وي . (عمر يی له ۲۱ کلونو زيات نه وی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اړین اسناد او شواهد چې باید له ځان سره یې ولرو:
دغه اسناد باید در سره وی او ورته یی واستوئ.

۱ - د هویت تذکره ۲- یو قطعه عکس   ۳-  د دوولسم ټولګي شهادت نامه  یا دری کلنې نمرې

د لاندې اسنادو په استولو خپل شواهد پیاوړي کړئ.
۱- نړیوالو آزموینو کې د ګډون کوم سند که لرئ، لکه  TOEFLیاIELTS   او نور...
۲- ستاینلیکونه او یا نورې لاس ته راوړنې هم کولای شئ ورته  واستوئ.

## نوم لیکنه څه ډول وکړم ؟
دغو بورسونو ته د انترنیت له لارې آنلاین نوم لیکنه کیږي.
په پام کې ولرئ، وړاندی تر دې چې نوم لیکنه وکړئ، باید خپل ټول اړین اسناد مو درسره اسکن او په فلاش که  یی درسره ولرئ.
د نوم لیکنې جزییاتو او شرایطو باندې باید پوه شو.


## نوم لیکنه :
دغه بورسونوته کولای شی په بیلابیلو ژبو د فارسي په ګډون نوم لیکنه وکړئ .

په لومړی ګام کې چې ډیر مهم هم دی باید یو باوري بریښنالیک (ایمیل ) ولرئ.
خو دتړل کیدو ویره یې نه وي(باوري وي)، ځکه راتلونکې کې هر خبر د همدې بریښنالیک له لارې درکول کیږي.
درونو!
لاندې سایت ته به دننه شئ
www.turkiyeburslari.gov.tr اویا  www.trscholarships.org نو داصفحه به مخکې درته راشي.




دلته به ژبه وټاکئ  بیا به  Apply  now  ته ټک ورکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library




بیا به دا لاندې صفحه درته ر
له لارې ژبه وټاکئ.
په فورم کې هم په همد ډول
د نوم لیکنې ژبه غوره کړئ.

Create an account ته ټک وکړئ

بیا یوه بله د شرایطو صفحه درته راځي، شرطونه ولولئ اوبیا Next باندی کلیک وکړئ دوې ګني وروسته به بیا دا صفحه راشي.




چې پدې صفحه کې ستاسو نوم، تخلص، د زیږېدو نیټه ، بریښنالیک او ..... لیکل کیږي.
دا ټول مالومات باید د تذکرې له مخې ورکړل شي! ځکه بیا د هر وخت لپاره همدا منل کیږي او ثبتیږي.
د ټولو تشو په مناسب ډول د ډکولو وروسته ........ پسورد ورکړئ او Next ته ټس ورکړئ .
له دې وروسته به ستاسو بریښنالیک ته یو لینک راشي. لکه څنګه چې یې په انځور کې ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Dear TURKİYE SCHOLARSHİP

Your account has been successfully created. Thank you for choosing Türkiye Scholarships. Be advised that you read through the Applicatic
submit your application. As Türkiye Scholarships Team, we wish you all the best in the applicat
Please click on the link below to complete registration and confirm your e-mail address.

[illegible]

If you are not the intended recipient of this message, someone else might have accidentally written your email address. If so, please ignore tl

| | |
|---|---|
| Telephone : | +90 (312) 218 42 76-77-78 |
| Fax : | +90 (312) 218 41 02 |
| Email : | info@turkiyeburslari.org |
| Address : | **T.C. BAŞBAKANLIK**<br>**Yurtdışı Türkler ve Akraba Topluluklar Başkanlığı**<br>Oğuzlar Mah. Mevlana Bulvarı No: 145 P.K: 06520<br>Balgat – ANKARA/TÜRKİYE |

You need to activate your membership by clicking on the link sent to your email address.
Activation e-mail might be in your Spam or Junk folder. Don't forget to check out.

برېښنالیک ته ننوځئ .
راغلي لینک «ترونې» ته ټس «کلیک» ورکړئ کوم چه دوی درته استولی دی.
د ۲۴ ساعتونو په دننه کي او مخکي له دي چي ډیر وخت تیر نشي، باید برېښنالیک ته ننوځئ، او لینک ته ټس ورکړئ، دلته یوه بله صفحه وازیږی دلته هم باید همغه پخوانی برېښنالیک ورکړی اوLogin کیکاږئ
اوس به تاسي ته یو فورم مخي ته راشي، د فورم ژبه د پخوا په څیر پخپله خوښه غوره کړئ.

## فورم ۱۰ پړاوونه لري.

## هغه ارین ټکي چي باید د نوم لیکني په وخت کي ورته پاملرنه وشي :

## دفورم لس پړوانه څنګه باید ډک شي؟

### لومړی پړاو (Personal Information)

هغه ځایونه چه په فورم کي ورسره د ستوري (★) نښه ده باید ډک کړل شي.
مالومات باید دهویت د تذکرې له مخي ورکړل شي
که Middle name (منځنی نوم ) نلرئ کولای شئ تش یې پرېږدئ
په please choose your identification and write number id
کي د هویت د تذکرې شمیره ولیکئ که پاسپورټ لرئ کولای شئ د پاسپورت شمیره ولیکئ.
په "other country of citizenship" کي د کوم بل هیواد تابعیت که ولرئ ویې ولیکئ.
هیرمونه شي چي د فورم په لومړي پړاو کي خپل عکس پورته ( اپلود ) کړئ.

### دوهم پړاو (Famil Information)

په Montly income کي دکور میاشتنی عاید ولیکئ
هڅه دي وشي چه میاشتنی عاید تر ۵۰۰ ډالرو زیات ونه لیکل شي.
Spoucus name surname چي د خاوند او یا هم میرمني نوم او نور مالوماتو لپاره ځانګړې شوي .

### دریم پړاو (Contact Details)

دلته د خپل اوسني استوګنځي په اړه مالومات ولیکئ
Emergency contact person په اضطراری حالت کي باید له چاه سره اړیکه ونیول شي ؟
نو دلته باید د کوم نیږدې نوم او تخلص .... ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم پړاو (Educational details)

دلته د لیسه د زدکړو په ا ړه معلومات ورکړئ

په "Name of educational details" کې دخپلې لیسې نوم وټاکئ که دلته مو دلیسه نوم نه وو "other" انتخاب کړئ او بیا په راغلي تش ځای کې مو د لیسه نوم ولیکئ.
په "Grading system" کې د لیسې د نمرو ورکولو لړۍ وټاکئ په افغانستان کې د ۱۰۰ له مخې نمرې ورکول کیږي په "Grading system" کې ۱۰۰ وټاکئ (یاني زموږ د ۱۰۰ سیستم دی) بیا مخامخ دوه تشې راځي چه یکې د لیسې سلنې باید ورسوی په لومړی تشه کې د سلنې صحیح عدد په دوهمه تشه کې اعشاري عدد لیکو ( دبیلګه په توګه سلنی مو 95,3 ده په لومړی خانه که ۹۵ په دویمه خانه ۳ رسوو)
په "National exam" کې «کانکور» وټاکئ او په اړه یې مالومات ورکړئ.

## پنځم پړاو ( Language Details )

په " International exam " کې، چې که په کومه نړیواله ازموینه کې مو ګډون کړی وي لیکو، که نه مو وي کړی تشه همداسې پریږدو.

## شپږم پړاو ( Experiences )

که کاري تجربه لرئ و یې لیکئ که نه نو تشه یی پریږدو دا هم .

## د اووم پړاو ۳ پوښتنې ( Letter of intent an References )

**لومړی پوښتنه :** خپلو هیلو، په ترکیه کې زده کړې او ستاسې راتلونکې موخو اوهدفونو په اړه پوښتنه ده.
خپل دلایل د ۱۰۰۰ حرفونو ( لس خطونو) په اندازه ولیکئ.

Please explain your expectation from studying in turkey and express your future plans
Please write your letter of intent here in 1000 characters (lines 10)

**دویمه پوښتنه :** په کوم څانګه کې غواړئ زده کړې وکړئ؟ ولې؟ اوخپلوپخوانیو زدکړوپه اړه راته ووایئ.
خپل دلایل د ۱۰۰۰ حرفو( لس خطونو) په اندازه ولیکئ

Please express the reasons for your department/program of study preferences and briefly explain how your educational background relates to your preferences
Please write your letter of intent in 1000 charachters ( lines 10)

**دریمه پوښتنه :** د زده کړو لپاره مو ترکیه ولې غوره کړه؟
خپل دلایل د ۱۰۰۰ حرفو( لس خطونو) په اندازه ولیکئ

Please explain the reasons why you choose turkiye for higher education
Please write your letter of intent in 1000 characters ( lines 10)

یوه بله پوښتنه چه وارندی له دې پوښتنو څخه یې درنه پوښتي دا ده چې په وزګار وخت که څه کوئ؟ له څه سره مینه لرئ ؟ او د داوطلبانه کارونو په اړه موراته ووایئ.

Please specify your area of interests, hobbies and voluntary work
Please use the space provided here, limiting your comments to 1000 characters

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پاملرنه** :

د دغه هرې پوښتنې لپاره مو باید دلایل له ۱۰۰۰ حرفونو (لس خطونو) څخه زیات نه وي.
د سوال اړونده ځواب ورکړئ، له هغه دلایلو او کلیمو کار واخلئ چې منطقي او د ځواب سره سمون ولري، دمثبتو اړخونو یادونه پکې وکړئ، مننه تري وکړئ اود دوی قناعت ترلاسه کړئ، مطلب او مالومات په لنډه خو اغیزمنه توګه، روښانه، قناعت ببښونکي او د منلو وړ واړندې کړئ، څومره چې خبرې اوږديږي، کیدای شي تیر وتنې، او بی اغیزې کېدل یې هم هومره زیاتي شي.
یو څه له نرمی هم کار واخلئ.
په "Reference" کې داسي یو کس باید ولیکئ، چې ستاسي په اړه مالومات ولري .

**اتم پړوا ( Scholarship Preference )**

دلته د زدکړې پروګرام غوره کړئ د طب پوهنځي لپاره "Ibni sina medica science" د اسلامی زدکړو لپاره Islamic Theology scholarship، د ساینس تخینک او نورو زدکړو لپاره Harran scholarship وټاکئ.

**د اتم پړاو نه وروسته د پوهنځی او پوهنتونو ټاکنی راځي.**

**یادونه : طب او انجینری ته د نوم لیکنې څخه د امکان تر کچې ډډه وکړئ، د ډیرو کسانو د بې نتیجې کیدو یو لوی لامل هم دا دی، تاسي کولای شئ نورې ډیرې ښکلي پوهنځی غوره کړئ چې په راتلونکي کې تاسي لوړو پوړونو ته ورسوي.**

تاسې به ۱۲ ټاکنې ولرئ ، یاني کولای شئ دوولس بیلابیل پوهنتونونه او پوهنځی غوره کړئ.
په Ankara , Istanbul , Izmir کې چې د ترکیې تر ټولو لوی ښارونه دی، له شپږو څخه زیات انتخابونه نشوکولای او پاتي باید نورو ښارونو کې نور پوهنتونونه وټاکو.
که دوه یا دری بیلابیلي پوهنځی غوره کړو ښه به وي. د یادوني وړ ده چې لمړی د خپلې خوښې پوهنځی وټاکئ ، دا هم د بریالیتوب یو اصل دی. Ankara , Istanbul , Izmir چې د ترکیې لوی ښارونه دي د محصلینو د زیات انتخاب له کبله د جذب امکان هم کم لري، څنګه چې پدې ښارونو کې تر ۶ د زیاتو انتخابونو حق نه لرئ، نو کولای شئ په نورو ښارونو کې هم خپل انتخابونه وکړئ، دا کړ هم د بریا په لور ستاسي سره مرسته کوي، ځینې ملګري ټول یا هم زیات شمیر انتخابونو په پورته لویو ښارونو کې کوي دوی ته د بورس چانس کم دی، زموږ توصیه ورته دا ده چې لوړ ښارونه په کم شمیر کې انتخاب کړي، په پورتنیو دری لویو ښارونو کې د ۳ یا ۴ انتخابونو توصیه ورته کیږي.
یادونه : د ټاکنې په وخت کې مو پام وي چې د واقف (شخصی) پوهنتون نه، بلکې دولتي پوهنتون غوره کړئ.

په لومړنیو دریو پوهنتونو کی باید تر شپږو زیات انتخابونه ونکړل شی
ځکه همدا لوی ښارونه دي.

| | |
|---|---|
| İstanbul | Boğaziçi Üniversitesi ,Galatasaray Üniversitesi İstanbul Teknik Üniversitesi ,İstanbul Üniversitesi, Marmara Üniversitesi, Yıldız Teknik Üniversitesi |
| Ankara | Ankara Üniversitesi,Gazi Üniversitesi,Hacettepe Üniversitesi |
| İzmir | Dokuz Eylül Üniversitesi,Ege Üniversitesi,İzmir Üniversitesi |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې پوهنتونونه اوښارونه نسبت لومړیودریو پورتنیو لویوښارونوته واړه خو په عمومي توګه د ترکیې له زیاتو پوهنتونواوښارونو ښخه موغوره په لاندې ډول راټول کړي.


| | |
|---|---|
| Bursa, | Uludağ Üniversitesi |
| Eskişehir | Anadolu Üniversitesi, Eskişehir Osmangazi Üniversitesi |
| Konya | Selçuk Üniversitesi |
| Adana | Çukurova Üniversitesi |
| Antaly | Akdeniz Üniversitesi |
| Balıkesi | Balıkesir Üniversitesi |
| Isparta | Süleyman Demirel Üniversitesi |
| Kütahy | Dumlupınar Üniversitesi |
| Trabzon | Avrasya Üniversitesi |
| Manisa | Karadeniz Teknik Üniversitesi.Celal Bayar Üniversitesi |
| Kayseri | Erciyes Üniversitesi |
| Kocaeli | Kocaeli Üniversitesi |
| Malatya | İnönü Üniversitesi |
| Muğla | Muğla Üniversitesi |
| Osmaniye | Osmaniye Korkut Ata Üniversitesi |
| Sakarya | Sakarya Üniversitesi |
| Samsun | Ondokuz Mayıs Üniversitesi |
| Sivas | Cumhuriyet Üniversitesi |
| Tokat | Gaziosmanpaşa Üniversitesi |
| Trabzon | Karadeniz Teknik Üniversitesi |
| Mersin | Mersin Üniversitesi |
| Zonguldak | Bülent Ecevit Üniversitesi |
| Denizlİ | Pamukkale Üniversitesi |
| Edirne | Trakya Üniversitesi |
| Gaziantep | Gaziantep Üniversitesi, |

### د فورم په ۹ پړاو کې ( اسناد پورته کیږي ):

د هر سند اندازه مو باید له
MB2 نه زیات نه وی.
اسناد مو باید په یو له دغو کې جوړ شوي وي.
GIF, PDF,TIf,JPEG
او په دغه پړاو کې copy of passport لیکلی مهمه نه ده چه باید هرومرو پاسپورت ولرئ
که پاسپورت نلرئ دهویت تذکره ورته آپلود کړی او همداسې نورو ته یې هم خپل اړونده اسناد .

### دفورم لسم پړاو

کله مو چې فورم ټول ډک کړ نو دا صفحه به درته راشي د دې صفحې په پای کې End لیکلي په End کلیک وکړئ ستاسو فورم به ټول انلاین دوی ته ورسیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا خپل ايميل چک کړئ چه آيا ځوابي ايميل درته راغلی او که نه، که ځوابي ايميل نه وو راغلی دا مانا چې ستا فورم ورته نه دی رسيدلی يا هم بله کومه ستونزه پيښه شوې ده چې ستاسود ايميل او فورم د رسيدو مخه يې نيولې ده، نو پدې حال کې که وخت وو بايد يو ځل بيا نوم ليکنه وشي، که ځوابي ايميل راغلی وو دا مانا لري چې ستاسي مالومات ورته رسيدلي دي. شاوخوا يوه مياشت وروسته تاسي ته د برياليتوب يا هم نه برياليتوب ځواب استوي. کله چې د نوم ليکنې نيټه ختمه شي د نوم ليکنې سايت (www.turkiyeburslari.gov.tr) وګورئ. چې د پايلو د اعلان نيټه پکې کتلای شئ.
هغه څوک چه بريالي شوي وي دهغوی برينناليک ته د برياليتوب پيغام استوي چې بيا به له هغوی سره مخامخ مرکه وشي.

## مخامخ مرکه !

مخامخ مرکه په پښتو، دري، ترکي انګليسی او نورو ژبو ورکولای شئ.

په عمومی توګه لاندې پوښتنې بنايي درڅخه وپوښتل شي.

(۱) - په مخامخ مرکه (Interview ) کې ډيری د محصل اخلاقو، خبرو چال او چلن ته ګوري چه آيا خپلو خبرو کې رينښتنی دی ؟ کيدای شي د فورم په اړه درنه پوښتنه وکړي، فورم کې د ليکل شوو مالوماتو اړوند پوره څيرنه وکړئ او فورم اړوند هر ډول پوښتنې ته تيارئ ونيسئ.

(۲) - د ترکيې او افغانستان اړيکو باندې يوه کتنه وکړئ، همدارنګه جلا جلا د دې دواړو هيوادونو په اړه يوه وړه څيرنه وکړئ، دوی تاريخي اړيکو ته هم زيات ارزښت ورکوي، په ځانګړي ډول دغازي امان الله خان او مصطفی کمال اتاترک د وخت او اړيکو يو څه مالومات ولرئ، پدې برخه کې هر اضافي مالومات ستاسې د بريا چانس زياتوي، او د مرکې په وخت کې اعظمي ګټه ترې اخيستلای شئ.

(۳) - له تاسې څخه ځينې دلايل پوښتل کيږي، لکه
ولې مو ترکيه غوره کړ؟
غواړې په کومه څانګه کې تحصيل وکړې ؟
ستا موخې او هدفونه به څه وي ؟
(۴) - درڅخه وبه چې پوښتی ولې بايد تاسې بريالي شئ او پخپل ځان کې څه وړتياوې وينئ ؟
(۵) – ستاسو د اړونده پوهنځی په اړه عمومي پوښتنې پوښتل کيږي.
دبيلګې په توګه د طب لپاره پوښتې: په افغانستان کې کومه ناروغي زياته ده او ولې ؟
د سوال اړوند ځواب ورکړئ، له هغه دلايلو او کليمو کار واخلئ چې منطقي او د ځواب سره سمون ولري، دمثبتو اړخونو يادونه پکې وکړئ، مننه ترې وکړئ اود دوی قناعت ترلاسه کړئ، مطلب او مالومات په لنډه ، روښانه قناعت بښونکي او د منلو وړ خبرو که واړندی کړئ، څومره چې خبرې اوږديږي، کيدای شي تير وتنې، او بی اغيزې کيدل هم هومره زياتې شي. يو څه له نرمۍ هم کار واخلئ
کټ مټ همدا پوښتنی بنايي ونه پوښتل شی دا هغه پوښتنی دی چه هر کال زياتې پوښتل کيږي.
داچه نور دڅه په اړه په مرکه که درنه پوښتی بنايي بيا يې ستاسې ايميل ته استوي.
کولای شئ دغو بورسونوته په اسانۍ لاره پيدا کړئ که چيرې ښه فيصدی او ښه مهارتونه ولرئ اوښه قانع کونکی دلايل وليکئ، د بريا چانس به مو لا زيات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د توجه ور څه دي ؟ ( کوم کسان بریالی بلل کیږی)**

۱ : هغه کسان چي د نمرو لوړه سلنه ولري : ستاسو دلیسي د نمرو سلني ته نظر کیږي همدارنکه ستاسو ستاینلیکونو مهارتونو , او یا نورو لاس ته راوړنو ته هم نظر کیږی.

۲ : د فورم په اووم پړاو کي ستاسو څخه ځیني دلایل غوښتل شوی وو ، لکه ولي مو ترکیه غوره کړه ؟
غواړي په کومه څانګه کي تحصیل وکړې؟
ستا موخې او هدفونه به څه وي ؟
هغه چا چه پدې برخه کي د ښو او قبلیدونکو دلایلو څخه کار اخیستی و بریا ته نیږدې کیږي.

۳ : هغه چا چي په انقره،استنابول اوازمیر کي ترخپلي کچي (۶ څخه زیات) انتخابونه نه وي کړي .

# پوښتنې او ځوابونه

پوښتنه : شهادت نامه د بهرنیو چارو په وزارت کي ټاپه کړو که نه ؟ او اسناد موباید په کومه ژبه وي ؟
**ځواب** : اړتیا نشته چه شهادت نامه د بهرنیو چارو په وزارت که ټاپه کړئ
او اسناد موچه په هر ژبه وی پروا نه کوی.

پوښتنه : ما لاتراوسه د دولسم شهادتنامه نه ده اخیسته ؟
**ځواب :** کولای شئ دری کلني نمرې (لسم یوولسم او دوولسم ) نمرې ورته واستوئ.

پوښتنه : زما د نمرو سلنه د ۹۰٪ نه ټیټه ده، کولای شم طب پوهنځی غوره کړم ؟
**ځواب** : که مو د نمروسلنه له ۷۰٪ نه پورته وي کولای شئ هره پوهنځی چي وغواړئ وټاکئ، خو د طب لپآره موباید د نمرو سلنه له ۹۰٪ څخه لوړه وي.

پوښتنه : د بورسونو پایلي څه وخت او څه ډول اعلان یږی ؟
**ځواب** : د بورسونو پایلي د کوم ځانکړی سایت له لارې نه اعلانیږي یوازې هغه محصلینو ته چي دې بورسونو لپاره یي نوم لیکنه کړې د دوی برېښنالیک ته د بریالیتوب یا هم د نه بریالیتوب ځواب استوي

پوښتنه : دکانکور په آزموینه کې بې پایلي کسان کولای شي د دې بورسونو غوښتونکي شي؟
**ځواب** : هو هغه کسان چي د کانکور په آزموینه کې بې نتیجې اعلان شوي دي هغه کسان هم کولای شي د دې بورسونو غوښتونکي شي، هغه که دهرکال محصل وي پروا نه کوي.

پوښتنه : څرنګه پوه شو چه کوم پوهنتونونه شخصی کوم دولتی دی ؟
**ځواب:** له http://www.turkiyeburslari.gov.tr/index.php/en/turkiyede-egitim-2/universiteler څخه په استفادې کولای شئ د دولتي او شخصي پوهنتونونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : نشم کولای فورم ته د ننه شم یا کله چې فورم واز کړم په مخ نه ځی؟
ځواب : دا فورمونه یواځی د google chorom او fire fox لپاره جوړ شوي دنوم لیکنه لپاره له دې دوو نه کارواخلئ.

پوښتنه : کله چې اکونټ (حساب) جوړه وم پاسورد (پټ نوم) نه قبوله وی؟
ځواب : باید پټ نوم مو ۶ حروف نه زیات وي په پاسورد کې مو باید حروف او اعداد دواړه شامل وي.

پوښتنه : زما بریښنالیک (ایمیل) ته لینک یا ځوابی ایمیل نه دی راغلی؟
ځواب : د ایمیل junk ,او spam چک کړئ.

پوښتنه : نشم کولای عکس پورته کړم؟
ځواب : دفورم په لومړی پړاو کې upload photo لیکلي د هغه په کلیک کولو سره انځور پورته کړئ کله چې مو انځور پورته کړ د مثبت علامه په واسطه یی اندازه انتخاب کړئ بیا به save ته ټک ورکړئ.

پوښتنه : کولای شم په انګلیسي ژبه پوهنځی ولولم؟
ځواب : که څه هم پوهنتونونه په عمومی توګه په ترکی ژبه دي خو کولای شئ په انګلیسي ژبه هم پوهنتون ولولئ چه باید ددې لپاره د انګلیسي ژبې قوي سند ولرئ، کله چې پوهنځی ټاکئ او خوا کې انګلیسی په قوس کې ورسره لیکلي وو مانا دا چې هغه پوهنځی په انګلیسي ژبه ده
که په قوس کې ورسره څه نه وو لیکلي نو په ترکي ژبه ده.

پوښتنه : دبورسونو لپاره لازمه ده چه باید په ترکی یا انګلیسی ژبه پوه شو؟
ځواب : نه مخکي له مخکې د نورو ژبو زده کړه اړینه نه ده.
پوښتنه : آیا د انترنت له لارې انلاین نوم لیکنه د نوم لیکنې یواځنی لاره ده ؟
ځواب : هو یواځنی لاره ورته انلاین نوم لیکنه ده

پوښتنه : زما د لیسي د نمرو سلنه ۶۹ ٪ ده کولای شم چې دې بورسونو ته نوم لیکنه وکړم؟
ځواب : نه د بورسونو لپاره باید د نمرو ۷۰٪ سلنه ولرئ.

پوښتنه : زما عمر له ۲۱ کلونو څخه زیات دی کولای شم د بورسونو لپاره نوم لیکنه وکړم؟
ځواب : نه د بورسونو لپاره باید عمرمو له ۲۱ کلونه زیات نه وي.

پوښتنه : په ۱۲ ټاکنو کې باید څو داني يي غوره کړم؟
ځواب : لږ تر لږه ۶ انتخابونه باید وکړئ.

پوښتنه : غواړم طب پوهنځی وټاکم زما دبورس چانس به څومره وی ؟
ځواب : د طب لپاره ډیر کم ظرفیت ټاکل شودی، نو هیله ده په نورو پوهنځیو هم غور وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزیاتو معلوماتو او لاربښوونو لپاره مهربانی وکړئ د لاندې لینک په کیکاږلو سره
د سایت لار ښوونې ولولئ.
http://www.turkiyeburslari.gov.tr/index.php/tr/sss-2

دفورم لس پړاوونو په اړه مالوماتو لپاره په لاندې لینک سره سایت ته دننه شئ.
https://basvuru.turkiyeburslari.gov.tr/tr/OBS_K/OnlineBasvuru/Yardim
د فورم د ډکیدو اړوند مالومات چې په انګلیسي او ترکي ژبو دي شته دي.

یادونه: د نوم لیکنې او بورسونو سیستم د وخت په تیریدو بدلون کولای شي. او پورتنی لاربښوونې یوازې
د روان کال لپاره جوړې شوې او د باور وړ دي.
د ستونزې په صورت کې د لاندې بریښنالیک او مبایل شمیرو سره په اړیکه کې شئ.

## موږ ولی دا کار وکړ ؟

زموږ ددې کار یوازینی لامل د خدای د خوښی لپاره د ځوریدلي ملت د راپورته کولو لپاره یوه وړه هڅه وه، پداسې حال کې چې دلته له خپلو درسونه او د محصلی له ستونزو سره هم مخامخ یو، خو دا مو اړینه وګڼله چې دې چوپړ ته به خپله انرژي ځانګړې کوو، او درنو ځوانانو هیوادوالو ته به ددوی د ښه راتلونکې په موخه دا لاربښود وړاندې کوو. موږ دا کار د ما دی ګټو لپاره نه بلکې د خپلو خلکو لپاره کړی دی.

## هیوادوالو ته پیغام:

درنو هیوادوالو!
راځئ لاسونه سره ورکړو او د ظلم، ناپوهی، بدنیتی، بې باوری، بد ویلو، تورونو، کرکې، دښمنی، خپل وژنې، او ورته ناوړه کړو څخه د رڼا، پوهې، اخلاص، ستایلو، تقدیر کولو، مینې، وروروولی، ژغورنې، او ورته ښیګڼو په لور کوټلي ګامونه واخلو، یو بل ته به مینه ورکوو، د ټولنې جوړیدل مو تر هر څه مخکینی اړتیا ده، پیل به له خپل ځان کوو، پر مخ به ځو او نورو ته به هم رڼا ورکوو .

بریښنالیک: peylama.peylama@yahoo.com

د اړیکې شمیرې: 0090 50785 06385 – 0090 5533 7970 59

## ترتیب کوونکی :

**شمس الرحمن مایار وردګ، مــطیع اللّه الــهام وردګ .**

**په درنښت**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**